UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو وروستی رپوټ ښيي چې، د ځانمرګو بريدونو له بدتريدو سره ملکي افغانانو ته د زيات زيان اوښتل روان دي**

**کابل، د ۲۰۱۷ کال د جولای ۱۷ مه –** د ملګرو ملتونو د روان کال د لومړی نیمايي رپوټ پر بنسټ د ۲۰۱۷ میلادی کال د لومړيو شپږو میاشتو پرمهال د افغانستان په جګړه کې د وژل شوو او ټپیانو شمیره د تیر کال د همدې مودې په څير په لوړه کچه پاتې ده. د انتحاري بريدونو له امله د شدیدو زیانونو لړۍ روانه ده، چې پر ښځو او ماشومانو يې ناوړه اغيزې ښيندلي دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (یوناما) د شمیرو له مخې، د جنوري د میاشتې له لومړی نيټې څخه د جون تر ۳۰ مې نيټې په ټوله کې د ۱۶۶۲ ملکيانو وژل کيدل تایید شوي دي چې دا د تیر کال د همدې مودې په پرتله دوه سلنه زیاتوالی ښيي. د ټپي ملکيانو شمیره بیا د تیر کال د همدې مودې په پرتله، د يوې سلنې په راټيټيدو ۳۵۸۱ کسه دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي او د یوناما مشر، تداميچي یاماموتو وویل: " په افغانستان کې د دې بدرنګې جګړې بشري بيه چې د ژوند له لاسه وتل، ویجاړي او پراخ زغم په کې راځي، ډیره لوړه ده. له تبعیض پرته، نامناسبه او غيرقانوني توګه د فشاري تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د کارولو دوام په ځانګړي توګه ویروونکي ده او باید هر څه زر تر زره ودرول شي."

د رپوټ له مخې د لومړيو شپږو میاشتو په موده کې د ملکيانو ۴۰ سلنه مرګ ژوبله د حکومت مخالفه ځواکونو له لوري د له وړاندې تعبیه شوو فشاري چاودیدونکو توکو (آی ای ډی) کارولو له امله رامنځ ته شوې، همدارنګه ځانمرګو بمونو او بشقاب ته ورته چاودیدونکو توکو ۵۹۶ کسه ملکیان وژلي او ۱۴۸۳ نور يې ټپیان کړي دي. په دغو شمیرو کې هغه ملکي تلفات هم شامل دي چې د ځانمرګو او پیچلو بريدونو، چې له يوه څخه زيات عاملين لري او له دوو يا له دې څخه زياتو وسلو څخه په کې کار اخيستل کيږي او ځانمرګي تعبیه شوي توکي هم په کې راځي، رامنځ ته کيږي، چې له امله يې ۲۵۹ ملکيان وژل شوي او ۸۹۲ نور ټپیان شوي دي چې دا د ۲۰۱۶ میلادي کال د لومړيو شپږو میاشتو په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی ښيي.

ګڼ تلفات په يوه برید کې چې په کابل کې د مې میاشتې په ۳۱ نيټه تیرسره شو رامنځ ته شول کله چې يوه لارۍ بم موټر لړ تر لړه ۹۲ ملکيان ووژل او نژدې ۵۰۰ نور يې ټپیان کړل، چې دا له ۲۰۰۱ کال راهیسې د یوناما له لوري تر ټولو مرګوني مستند کړل شوي پيښه ده.

رپوټ يو لړ سپارښتنې هم لري چې په حکومت ضد ځواکونو غږ شوی چې په قصدي توګه د ملکيانو په نښه کول ودروي او د طالبانو د مشرتابه له لوري لاربنوود عملي کړي چې د دغو ډول بريدونو د پای ته رسولو غږ کوي.

له حکومتي ځواکونو غوښتل شوي چې د استوګنې په سیمو د هاوان او راکټونو په شمول وسلو کارول ودروي او همدارنګه حکومت پلوه ملیشي او ورته نور ګروپونه هم. رپوټ همدارنګه له نړيوالي ټولنې د روان ملاتړ سپارښتنه کړې څو افغان ملي ځواکونه وروزي او ملاتړ يې وکړي.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنر، زید راد الحسین وویل: " د دغه رپوټ شمیرې هغه شان چې زړه بوږنوونکي دي، نشي کولی په بشپړه توګه د افغانستان د خلکو بشري ځور انځور کړي. د دغو ملکي تلفاتو هره شمیره د يوې ماتې کورنۍ، د نه تصور وړ درد او زغم او په ظالمانه توګه د خلکو د بشري حقونو له پښو لاندې کيدل منعکسوي."

ګڼ افغانان له رواني درد څخه ځوريږي، خپلې کورنۍ او ملګري يې له لاسه ورکړي او په ويره کې ژوند کوي، او کله چې ورځني ژوند کې ځي راځي نو د هغه ګواښ چې ورسره مخامخ دي په اړه يې پوهيږي. ګڼ نور د خپلو کورونو پريښودو ته اړ شوي او خپلې روغتيا، زدکړو او ژوندانه ته يې له اوښتي زيان ځوريږي. د افغانستان روانه ملي غمیزه باید له پامه ونه غورځول شي.

د ۲۰۱۶ کال پر خلاف چې د ښځو او ماشومانو په تلفاتو کې کموالی راغلی وو، سږنۍ شميرې د وژل شوو ښځو او ماشومانو په شمیره کې زیاتوالی راغلی دی. په ټوله کې د ۱۷۴ ښځو وژل کیدل تایید شوي او ۴۶۲ نورې ټپیانې شوې دي چې دا د تیر کال د همدې مودې په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښيي.

د ماشومانو مرګ ژوبله يوه سلنه زیاته شوې ده. چې په دې کې ۴۳۶ وژل کیدل او ۱۱۴۱ ټپیان راځي. د وژل شوو په شمیره کې نهه سلنه زیاتوالی راغلی دی. یوناما په ډاګه کړې چې د له وړاندې تعبیه شوو فشاري بشقاب ته ورته انفجاري توکو او په ملکي استوګنیزو سیمو کې هوايي عملياتو په ګډه د ښځو او ماشومانو د تلفاتو له لوړيدو سره مرسته کړې ده.

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

حکومت ضد ځواکونه د ۱۱۴۱ ملکي وګړو د وژل کیدو او ۲۳۴۸ نورو د ټپي کیدو لامل شوي چې دا د تیر کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۲ سلنه لوړوالی ښیي. دا مرګ ژوبله د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۶۷ سلنه جوړوي چې ۴۳ سلنه طالبانو ته، ۵ سلنه د خراسان اسلامي دولت او پاتې نور یې نا مشخصو بریدګرو ته نسبت ورکړل شوي ده.

رپوټ د ځمکنی نښتو چې د ملکي مرګ ژوبلې دوهم تر ټولو مهم لامل دی، له اړخه د رامنځ ته شوو ملکي تلفاتو په راکمولو کې د افغان امنیتي ځواکونو دوامداره هڅې ستایلې دي. شمیرې د ۲۰۱۷ میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تیر کال د همدې مودې په پرتله د ځمکنیو نښتو له اړخه په رامنځ ته شوې مرګ ژوبلې کې ۱۰ سلنه کموالی په ګوته کوي، چې په دې کې ۴۳۴ وژل شوي او ۱۳۷۵ ټپیان راځي. دغه کموالی د حکومت پلوه ځواکونو له لوري د غیر مستقیمو وسلو او تر ډیره د هاوان کارولو له اړخه رامنځ ته شوو تلفاتو کې کمښت ته نسبت ورکول کیږي.

یوناما په ټوله کې د ۳۲۷ وژل کیدل او ۶۱۸ ټپیان حکومت پلوه ځواکونو ته نسبت ورکړي چې د تیر کال د همدې مودې په پرتله ۲۱ سلنه کموالی په ګوته کوي، که څه هم یوناما د هوایي عملیاتو پرمهال د ملکي تلفاتو په برخه کې ۴۳ سلنه زیاتوالی نوټ کړی چې په کې ۹۵ وژل کیدل او ۱۳۷ ټپیان راځي.

۹ سلنه دغه تلفات په کابل کې د ځانمرګو او پیچلو بریدو له امله رامنځ ته شوي دي. د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې په ځانګړې توګه د حکومت ضد ځواکونو له لوري د بریدونو د زیاتوالی له امله ملکي تلفات ۱۵ سلنه زیات شوي دي. د تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره په کابل، هلمند، کندهار، ننګرهار، ارزګان، فاریاب، هرات، لغمان، کندز او فراه ولایتونو کې رامنځ ته شوې ده.

د ملګرو ملتونو رپوټ یوازې هغه پیښې راخیستې چې د تصدیق له بهیر وروسته تایید شوې دي. د مستندولو سخت بهیر چې د هرې پیښې په تړاو د تصدیق بیلابیلو پړاوونو ته اړتیا لري په دې مانا ده چې په ټولو کې دغه شمیرې  بنایي محافظه کارانه وي.

د ملګرو ملتونو شمیرې ښیي چې د ۲۰۰۹ کال له جنوري راهیسې په افغانستان کې د وسله والو شخړو له امله څه باندې ۲۶۵۰۰ ملکیان وژل شوي او یوازې څه کم ۴۹۰۰۰ نور ټپیان شوي دي.

* * *

بشپړ رپوټ په انګلیسي او د رپوټ خلاصه په دري او پښتو ژبو په دې پته د لاسرسي وړ دي:
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports


د ملکي وګړو مرګ ژوبله د جنوري - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۷
6000
5000
4000
3000
2000
1000
0
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
2017
2492
3271
3916
3138
3921
4895
4982
5267
5243
1440
1990
2341
1979
2577
3209
3367
3630
3581
1052
1281
1575
1159
1344
1686
1615
1637
1662
وژل شوي
ټپيان
ټوټل


په جګړه کې د ښځينه وو لخوا د ملکي خلکو وژنه
د جنوري - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۷
1800
1600
1400
1200
1000
800
600
400
200
0
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
2017
1052
1281
1575
1159
1344
1686
1615
1637
1662
140
127
156
40
58
238
148
263
194
313
223
328
174
153
206
239
396
327
599
931
1091
945
1133
1242
1228
978
1141
دولت ضد عناصر
دولت پلوه خواکونه
نور
ټوټل


په وسلواله جګړه کې د ښځينه وو لخوا د ملکي وګړو مرګ ژوبله
جنوري - جون ۲۰۱۷
د دولت ضد عناصرو او
دولت پلوه ځواکونو ته
منسوب تلفات
10%
نور
5%
دولت پلوه خواکونه
18%
دولت ضد عناصر
67%

UNAMA
ديوناما مطبوعاتي اعلاميه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN







| | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنوب | 1123 | 1559 | 1216 | 891 | 1093 | 1393 | 1317 | 1500 | 1417 |
| مرکزي سيمه | 314 | 351 | 447 | 464 | 612 | 697 | 690 | 1116 | 1254 |
| ختيځ | 329 | 440 | 697 | 437 | 671 | 856 | 952 | 741 | 702 |
| جنوب ختيځ | 445 | 551 | 875 | 664 | 598 | 615 | 766 | 446 | 517 |
| لوديځ | 158 | 156 | 219 | 208 | 404 | 422 | 297 | 395 | 483 |
| شمال | 61 | 93 | 98 | 318 | 331 | 563 | 370 | 518 | 469 |
| شمال ختيځ | 35 | 113 | 363 | 147 | 187 | 311 | 548 | 543 | 379 |
| مرکزي لوړه سيمه | 27 | 8 | 1 | 9 | 25 | 38 | 42 | 8 | 22 |

* * *

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) ماموريت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د يوه سياسي ماموريت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نيت چارې وراندې کوي. "د ښه نيت چارې" مغه ډيپلماتيک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه يې په عام او شخصي ډول دخپل استقلاليت، بې پرې توب او امانت دارۍ د ترسيمولو لپاره پورته کوي، چې د نړيوالو شخړو د پراختيا، خپريدا اوزياتيدا مخه ونيسي. يوناما د سولې او پخلاينې له بهيرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خونديتوب په ګډون د بشري حقونو څارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالۍ ته وده ورکوي او سيمه ييزه همکاري راجلبوي. يوناما همدارنګه د همغږې پرمختيا ملاتړ کوي، چې د نړيوالې ټولنې لخوا يې ملاتړ کيږي.*